## په سويډن کښي د پښتو ژبي د زده کوونکو
## د دوهم ټولګي د پاره د پښتو ژبي د تدريس کتاب

# پښتو




ترتيب کوونکئ: سليم(عابد ) په ستاکهلم کي د پښتو او دری ژبو ښوونکئ

د چاپ کال ۱۳۸۳

abed_salim@hotmail.com

بسم الله الرحمن الرحيم

abed_salim@hotmail.com




نوم زما کتاب دی    تاته مې خطاب دی

زه ستا ښه آشنا يمه    تاته کيسې وايمه

خومره ښې کيسې لرم    تر شاتو يې خوږې لرم

مشق دې د ليکلو يم    هم دې د لوستلو يم

پام مې په ساتلو کړه    په پاڼو اړولو کړه

پاک مې له ګردونو کړه    پام مې په رسمونو کړه

ښکلی مې هر باب دی    نوم زما کتاب دی

abed_salim@hotmail.com

# د الفبا ترانه

څه ښکلي حرفونه دي    خواږه يې اوازونه دي

څه روان درسونه دي    ښکلي يې رسمونه دي

خوښ مو ټول مخونه شول    دهر مخ مضمونونه شول

روانې کليمې لولو    په مينه يې چملې لولو

ګوتې مو لګيا شولې    د ليک سره اشنا شولې

خلاصه الفبا شوله    ژبه مو ګويا شوله

محمدعثمان (نژند)

abed_salim@hotmail.com

# د پښتو د الفبې توري

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ا | آ | ب | پ | ت | ټ |
| ث | ج | چ | ح | خ | څ |
| ځ | د | ډ | ذ | ر | ړ |
| ز | ژ | ږ | س | ش | ښ |
| ص | ض | ط | ظ | ع | غ |
| ف | ق | ك | ګ | ل | م |
| ن | ڼ | و | ه | ی | ي |
| ې | ۍ | ئ | | | |

ترتیب کوونکی: سلیم (عابد) د پښتو او دری ژبو ښوونکی په ستکهلم کې



# ا

# انار

## انا انار راوه.

## انار داني لـري.

ا ..........................................................

..........................................................

..........................................................



آ

آس

آدم خان آس لري.

آس آواز لـــــــري.

آ.....................................................

.....................................................

.....................................................



# ب

# باغ

موږ باغ لرو.

په باغ کې کار کوو.

ب...............................................

...............................................

...............................................



# پ

# پاک

زه خپل کالي پاک ساتم.

زه کتاب هم پاک ساتم.

پ..........................................

..............................................

..............................................



# ت

# توپ

دا توپ تور او سپین دي.

دا د ستار توپ دي.

ت..........................................

...............................................

...............................................



# ټ

# ټال

دا ټال دی.

موږ تول په ټال کې زانګو.

ټ..................................................

..................................................

..................................................



# ث

# ثواب

ښه کار کول ثواب لري.

د ویالو او لارو جوړول

ثواب لري.

ث.........................................

...................................................



# ج

## جوار

جمال جوار پخوي.

جواد جوار خوري.

ج..............................................

...............................................

...............................................



# چ

## چمن

دا چمن شین دی.

په چمن کې مچۍ دي.

مچۍ چیچل کوي.

چ........................................................

..........................................................



# ح

# حلوا

محسن حلوا راوړه.

حلوا خوږه ده.

فتاح حلوا خوري.

ح............................................................

............................................................



# خ

# خټکی

دا خټکی خوږ دی.

بختور خټکی خوري.

دا خټکی یخ دی.

خ..................................................

......................................................



# څ

# څادر

اڅک څادر لري.

اڅک څلور څادرونه خرڅ کړ.

زما څادر نوی دی.

څ........................................................

........................................................



# ځ

# ځان

ځان مینځل ګټه لري.

زه هره ورځ ځان مینځم.

ښه زده کوونکی ځان

او کالي پاک ساتي.

ځ..................................



د

دوا

د داود غاښ درد کوي.

دادا داود ډاکټر ته بیایي.

داود دوا نه خوري.

د........................................

.........................................



# ډ

## ډوډۍ

زه ډوډۍ خورم.

ډوډۍ ډېر خوند لري.

زه له ډېرو خوړلو نه ډډه کوم.

ډ.........................................



# ذ

# ذاکر

ذاکر د ذکي ورور دی.

ذکي د ذاکرسره لوبې کوي.

نذیر د دوی ملګری دی.

ذ..........................................

..........................................



# ر

# روغتیا

غرونه پاکه هوا لري.

پاکي روغتیا ته ګټه لري.

مور ماته انګور راوړل.

ر..................................................

....................................................




# ړ

# ړوند

ړوند سړی څه نه ویني.

ړانده د مرستې وړ دي.

بې علمه سړی، ړوند دی.

ړ...............................................

..................................................




# ز

## زوی

زلمی د زرغوني زوی دی.

د زلمي پلار مزدوري کوي.

نوروز د کال لومړۍ ورځ ده.

ز...........................................

..............................................



# ژ

# ژمی

پـه ژمي کې ورځې ژر، تېرېږي.

## پـه ژمي کې ساړه وي.

پـه سړه هوا کې ژوند سخت وي.

ژ..........................................

..........................................

..........................................



ږ

ږیره

توریالی ږیره لري.

مېږه شیدې کوي.

شپېلۍ خوږ غږ لري.

ږ.............................................

..............................................



# س

# سهار

زه هر سهار درس ته ځم.

په سهارکې درس ښه زده کېږي.

ستار زموږ استاذ دی.

س..............................................

..............................................







# ش

## شیدې

بشیر شیدې خوري.

د بشیر خور آش پخوي.

د شیدو ایشول ګټه لري.

ش........................................

..................................................




# ښ

## ښار

موږ په ښار کې او سېږو.

ټول مرغان مښو کې لري.

زما ښار خوښ دي.

ښ..........................................

..................................................



# ص

# صابر

صابر د بصيرې ورور دی.

صابر خپل سبق خلاص کړ.

صابر له خپلې خور سره

مرسته کوي.

ص.......................................




ض

ضیا

ضیا د افضل زوی دی.

ضیا په حوض کې لامبي.

افضل له ضیا سره مرسته کوي.

ض.........................................



ط

طاهر

طاهر د لطیف پلار دی.

طاهر خیاط دی.

لطیف هم خیاطي کوي.

ط.............................................

.............................................



# ظ

# ظاهر

ظاهر د نظيفي پلار دی.

نظيفه د حافظ وربره ده.

ظاهر د نظيفي او حافظ

سره مينه لري.

ظ..........................................



# ع

# علم

علم لوی نعمت دی.

ښوونځی د علم ځای دی.

ښوونکي نوی درس شروع کړ.

ع...............................................



# غ

# غنم

غني په خپله ځمکه کې غنم کري.

مور په باغ کې هم غنم کرو.

په بغلان کې غنم ډېر

کرل کېږي.

غ......................................................



# ف

# فالوده

فاروق فالوده خوري.

حفیظ فالوده جوړوي.

عارف فالوده خرڅوي.

په ګرمۍ کې فالوده ډېر خوند کوي.

ف.........................................



# ق

# قلم

موږ په قلم لیک کوو.

لقمان ښه قلم لري.

عتیق د لقمان په قلم لیک لیکي.

د لقمان قلم د عتیق خوښ شو.

ق.............................................

................................................



# ک

# کور

هرڅوک له خپله کور سره مینه لري.

د کور پاک ساتل ښه کار دی.

موږ خپل کور پاک ساتو.

د کور په کارونو کې کمکیان

هم برخه اخلي.

ک..........................................



# ګ

# ګل

په پسرلي کې رنګا رنګ ګلان شنه کېږي.

د ګلاب ګل ښه بوی لري.

زموږ په هیواد کې ځنګلي ګلان هم شته.

ګلالۍ په ګلانو کې ګرځي.

ګ.............................................



# ل

# لمر

## لمر رڼا او تودوخه لري.

لالګله ! لمر بدن ته ډېره ګټه لري.

زما ملګری لمر ختو کې ښوونځي
ته ځي.

لمر په هر فصل کې ګټه لري.

ل...........................................



# م

# ملالۍ

ملالۍ ښوونځي ته ځي.

زرغونه د ملالۍ ملګرې ده.

ملالۍ د ماشومانو سره یو

ځای لوبې کوي.

ګل مکې خپلې مورته سلام اچوي.

م..............................................



# ن

# ناک

ناک یوه خوږه میوه ده.

په ننګرهار کې نارنج او ناک

پیدا کېږي.

د بدخشان ناک ښه خوند لري.

## ناک ژېړ رنګ لري.

ن.............................................



# ڼ

# مڼه

دا بڼ د مڼو ونې لري.

د مڼو خوراک بدن ته ګټه لري.

ماشومان د مڼو په بڼ کې

اتڼ کوي.

په دې بڼ کې یوه ماڼۍ هم شته.

ڼ..................................................



# و

# ورور

وحید زما مشر ورور دی.

زه له خپل ورور سره ښوونځي ته ځم.

زما ورور له ما سره مرسته کوي.

ټول مسلمانان سره ورونه دي.

و..................................................



# هـ

# هوا

په پسرلي کې هوا ښه وي.
په ښه هوا کې ښه زده کړه کېږي.
په توده هوا کې ډېر ګرځېدل
زيان لري.
دسهار تازه هوا بدن ته ګټه رسوي.

هـ..........................................



# ي

## يوم

يوم د بزګرۍ يوه آله ده.

يوم ته بيل هم وايي.

يوم له اوسپنې څخه جوړېږي.

د يوم لاستى د لرګي وي.

ي..........................................






د ښوونکو لپاره

# د پښتو ژبي د الفبي توري

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ټ | ت | پ | ب | آ | ا |
| څ | خ | ح | چ | ج | ث |
| ړ | ر | ذ | ډ | د | ځ |
| ښ | ش | س | ږ | ژ | ز |
| غ | ع | ظ | ط | ض | ص |
| م | ل | ګ | ک | ق | ف |
| ي | ی | ه | و | ڼ | ن |
| | | | ئ | ۍ | ې |

abed_salim@hotmail.com

# The Pashto Alphabet د پښتو ژبي الفبې

| آزاد | پای | منځ | پیل | یا | نوم |
|---|---|---|---|---|---|
| Indep | Final | Medial | Initial | Or | Name |
| | ـا | | آ ا | (a)aa | Alif |
| ب | ـب | ـبـ | بـ | b | Be |
| پ | ـپ | ـپـ | پـ | p | Pe |
| ت | ـت | ـتـ | تـ | t | Te |
| ټ | ـټ | ـټـ | ټـ | ṭ | Ṭe |
| ث | ـث | ـثـ | ثـ | s̱ | S̱e |
| ج | ـج | ـجـ | جـ | j | Jim |
| چ | ـچ | ـچـ | چـ | ch | Che |
| ح | ـح | ـحـ | حـ | ḥ | Ḥe |
| خ | ـخ | ـخـ | خـ | kh | Khe |
| څ | ـڅ | ـڅـ | څـ | ś | Śe |
| ځ | ـځ | ـځـ | ځـ | ż | Że |
| د | ـد | | د | d | Dal |
| ډ | ـډ | | ډ | ḍ | Ḍal |
| ذ | ـذ | | ذ | Ẕ | Ẕal |

abed_salim@hotmail.com

| The Pashto Alphabet د پښتو ژبي الفبي | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| آزاد | پای | منځ | پيل | يا | نوم |
| Indep | Final | Medial | Initial | Or | Name |
| ر | ـر | | ر | r | Re |
| ړ | ـړ | | ړ | Ṛ | Ṛe |
| ز | ـز | | ز | z | Ze |
| ژ | ـژ | | ژ | zh | Zhe |
| ږ | ـږ | | ږ | Ẓh | Ẓhe |
| س | ـس | ـسـ | سـ | s | Sin |
| ش | ـش | ـشـ | شـ | ṡh | Ṡhin |
| ښ | ـښ | ـښـ | ښـ | ṣh | Ṣhin |
| ص | ـص | ـصـ | صـ | ṣ | Ṣad |
| ض | ـض | ـضـ | ضـ | z̤ | Z̤ad |
| ط | ـط | ـطـ | طـ | t̤ | T̤a |
| ظ | ـظ | ـظـ | ظـ | ẓ | Ẓa |
| ع | ـع | ـعـ | عـ | ç | çyn |
| غ | ـغ | ـغـ | غـ | gh | Ghayn |
| ف | ـف | ـفـ | فـ | f | Fe |

# The Pashto Alphabet دپښتو ژبي الفبې

| آزاد | پای | منځ | پیل | یا | نوم |
|---|---|---|---|---|---|
| Indep | Final | Medial | Initial | Or | Name |
| ق | ـق | ـقـ | قـ | q | Qaf |
| ک | ـک | ـکـ | کـ | k | Kaf |
| ګ | ـګ | ـګـ | ګـ | g | Gaf |
| ل | ـل | ـلـ | لـ | L | Lam |
| م | ـم | ـمـ | مـ | m | Mim |
| ن | ـن | ـنـ | نـ | nn | Nun |
| ڼ | ـڼ | ـڼـ | | ṇ | Nuṇ |
| و | ـو | | و | w,u,o | Waw |
| ه | ـه | ـهـ | هـ | h | He |
| ى | ـى | | | ay | Ye |
| ي | ـي | ـيـ | يـ | yi | Ye |
| ې | ـې | ـېـ | | e | Ye |
| ۍ | ـۍ | | | | əy |
| ئ | ـئ | ـئـ | | ey | Ey |
| | یادونه: په پښتو ژبي کي ټول ( ٤٥ ) توري په کاريږي | | | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | **Special Pashto Letters** | | | | |
| | د پښتو ژبي خاص توري | | | | |
| ږ | ړ | ډ | ځ | څ | ټ |
| | | | | ڼ | ښ |

abed_salim@hotmail.com

# اسلام

اسلام ښکلی دین دی. په اسلام کې
کار کولو ته لومړی ځای ورکړ شوی
دی او کار کوونکي ته تل په درنه
سترګه کتل کیږي. موږ د اسلام د
دین پیروان یو. اسلام هر وخت
انسانان کار او کسب ته هڅوي.

الف

بسم الله الرحمن الرحيم

# حمد

خدای خالق د ټول جهان دی
خدای روزونکی د انسان دی
هرڅه خدای دي پیدا کړي
ښه او بد یې جلا کړي
دی واکدار دی د همه و
کل اختیا دی د همه و
شــــریک نه لري یکتا دی
خدای د ټول جهان پاچا دی

ب

# يووالی

يووالی او اتحاد ډېر ښه کار دی. الله تعالی (ج) مسلمانانو ته د يووالي امر کړی او له بې اتفاقي څخه يې منع کړې دي. په اتفاق سره د مسلمانانو تر منځ مينه پيدا کېږي. د هر ولس آبادي او پر مختګ د هغوی په يووالي پورې اړه لري. پاک خدای (ج) دې د نړۍ ټول مسلمانان په اتفاق ولري.

ج




نوم زما کتاب دی    تاته مې خطاب دی
زه ستا ښه آشنا یمه    تاته کیسې وایمه
څو مره ښې کیسې لرم    تر شاتو یې خوږې لرم
مشق دې د لیکلو یم    هم دې د لوستلو یم
پام مې په ساتلو کړه    په پاڼو اړولو کړه
پاک مې له ګردونو کړه    پام مې په رسمونو کړه
ښکلی مې هر باب دی    نوم زما کتاب دی

# د افغانستان نقشه








# د افغانستان ولسمشر حامد کرزي





# دافغانستان نوی ملي سرود

څو چې دا زمکه اسمان وي
څو چې دا جهان ودان وي
څو چې ژوند په دې جهان وي
څو چې پاتې يو افغان وي

تل به دا افغانستان وي
تل به دا افغانستان وي

هزاره، که بلوڅان يو
پشه يان، نورستانيان يو
ازبکان که ترکمنان يو
پښتانه که تاجکان يو

که هر قام يو، افغانان يو
د وطن د مور بچيان يو

دى شعار مو ازادي
سوکالي او ابادي
عدالت او ترقي
ځو په لوري د بري

دا مو ږغ دى بختور
وايو الله اکبر
وايو الله اکبر

# دسليم (عابد) نورچاپ شوي پښتوکتابونه دادي












**BY:** Salim Abed Paiman
Adress:Oxelvägen 34, 6 tr
138 31 ÄLTA
Stockholm Sweden.
☏: 08-773 23 81 (hem).
: 073- 93 94 622 (mobil).
E-post: abed_salim@hotmail.com



abed_salim@hotmail.com